**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې دیبورا لاینز وینا**

**کابل ۲۲ جون ۲۰۲۱**

*** * ***

آغلې رییسې،

زه د افغانستان په اړه د لیوالتیا د کچې هرکلی کوم، څرنګه چې د دغې ناستې له خوا په ډاګه شوه چې نن د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه ترسره کیږي. د دغې پاملرنې لپاره تر دې غوره وخت شتون نه لري.

زه په افغانستان کې د اوسني وضعیت په اړه شورا ته د خپلې اندېښنې په اړه مبالغه نه شم کولی. ټول ستر جریانات – سیاسي، امنیتي، د سولې پروسه، اقتصاد، بشري بیړنی وضعیت، او کوویډ – ټول دغه جریانات منفي یا په راکد حالت کې دي. که چیرې د هیلې حس موجود وي، دا په حقیقت کې له دې واقعیت سره مل دی چې پخوانۍ ناوړه وړاندوینې نه دي عملي شوي. خو د افغانانو نه ماتیدونکې روحیه او د هغوي حیرانوونکې مقاومت په سخت ډول ازمایل شوي او د ممکنه ناوړه صحنو په لور بدلون هم د انکار وړ نه دی. څه چې په افغانستان کې پیښیږي نړیوالې پایلې له ځان سره لري او د امنیت شورا باید د اوسني وضعیت له وخامت څخه په بشپړ ډول خبره وي.

د اپریل د نیمه یې خبرتیا چې ټول نړیوال ځواکونه به په راتلونکو میاشتو کې و وځي، افغان سیاسي نظام او په پراخه کچه ټولنې ته یو ټکان ورکړ. د ځواکونو د ایستلو د پریکړې تمه کیده خو نه یې د چټکتیا – زیاتره ځواکونه لا وار د مخه ایستل شوي. ټول فعالین باید له دغه نوي راڅرګندیدونکې واقعیت سره سم ځانونه برابر کړي.

د ځواکونو ایستل د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د فبروري د تړون له څلورو برخو څخه یوه هغه ده چې په واقعیت کې د دغې شورا له خوا تایید او منل شوی. دغه تړون دا هیله را وټوکوله چې هغه به د افغانانو ترمنځ د سولې فضا رامنځ ته کړي. بهرني ځواکونه به لاړ شي، او له یو بل سره د جګړې پر ځای، افغانان به د دې فرصت ولري چې سره راټول شي او سولې ته لار ومومي. خو د دې پر ځای، د جګړې په ډګر کې کړنې او اجراات د مذاکراتو پر میز د پرمختګ په پرتله ډیر زیات وو.

په دغه خورا وخیم وخت کې، افغان وګړي او په کابل کې ډیپلوماتیکه ټولنه د افغانستان د سیاسي نخبګانو ترمنځ د سیاسي یووالي د نشتون له امله اندېښمنه ده. په داسې حال کې چې په حکومت کې ځینې نیمګړتیاوې سیاست ته په حکومتولۍ لومړیتوب ورکولو د میراث له امله دی، د یووالي نشتون ته باید رسیدګي وشي یا به دغه کار د طالبانو د لا زیات جغرافیايي پرمختګ خطر زیاتوي. که څه هم موږ د ولسمشر غني او د هغه د حکومت او نورو سیاسي مشرانو له خوا وروستیو خوځښتونو له امله چې سره یو ځای شوي څو د عاجلو امنیتي موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي او یووالی په ډاګه کړي، په محتاطانه ډول هڅول شوي یو. ریښتینې ازموینه به دا وي چې آیا په کابل کې یووالی به د سولې پروسه غښتلې او دولتي ادارې تقویه کړي.

آغلې رییسې،

له تیر یوه کال راهیسې زه شورا ته په تاوتریخوالي کې د دوامدار زیاتوالي په اړه خبرې کوم، آن سره له دې چې په دوحه کې په سپتمبر میاشت کې د سولې خبرې اترې هم پیل شوې. د طالبانو وروستي پرمختګونه د زیات پام وړ دي او د تشدید شوي نظامي کمپاین په پایله کې رامنځ ته شوي. د مۍ میاشتې له پیل راهیسې د افغانستان له ۳۷۰ ولسوالیو څخه تر ۵۰ زیاتو هغو سقوط کړی. زیاتره نیول شوې ولسوالۍ د ولایتي مرکزونو شا و خوا موقعیت لري او دا په ډاګه کوي چې طالبان ځانونه دې ته چمتو کوي چې د بهرنیو ځواکونو په بشپړ وتلو سره د دغو مرکزونو د نیولو هڅه وکړي. دغه وروستی نظامي کمپاین په مستقیم ډول د طالبانو د نظامي کمیسیون د رئیس له هغو وروستیو څرګندونو سره په ټکر دی چې په خپلو خبر کې یې په ډاګه کړې وه، زه د هغه خبرې دلته راخلم، "موږ له نورو لورو سره د دوه اړخیز درناوي په فضا کې تګ ته ژمن یو څو یوې هوکړې ته ورسیږو."

که چېرې طالبان دغه شدید نظامي کمپاین ته دوام ورکړي، دا به یوه افسوسناکه کړنه وي. دا به د یوه داسې زیات او اوږد مهالي تاوتریخوالي لامل شي کوم چې به د افغان وګړو کړاو لا پسې اوږد او د تیرو ۲۰ کلونو په سختۍ سره جوړ شوي تاسیسات د ویجاړیدو له خطر سره مخ کړي. دا باید په قاطع ډول په ډاګه شي چې په کابل کې په نظامي ډول د تحمیل شوي حکومت رامنځ ته کول به د افغانانو د ارادې او د سیمې د هیوادونو او په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې د ښکاره شویو دریځونو خلاف عمل وي.

آغلې رییسې، موږ هیله درلوده چې په دوحه کې ځنډیدلې خبرې اترې په اپریل میاشت کې په استانبول کې د یوه کنفرانس له لارې چټکې کړو، چې د ترکیې، قطر او ملګرو ملتونو څخه به یې په ګډه کوربتوب کیږي. د جمهوریت ټیم په کنفرانس کې د ګډون لپاره چمتو و؛ که څه هم طالبانو هیڅکله په رسمي ډول دغې بلنې ته ځواب ور نه کړ. یوناما د خپل صلاحیت په چوکاټ کې او د غړو هیوادونو سره په همکارۍ کار کوي چې د مذاکراتو د پرمخ وړلو لپاره لارې چارې پیدا کړي. خو داسې بریښي چې د اوس لپاره د جګړې لاملونه د مذاکرې پر معقولو او تمه شویو لارو چارو غلبه کوي.

آغلې رییسې،

آن د جګړې له هغو ډینامیکونو پرته چې ما توضیح کړل، افغانستان یو داسې هیواد دی چې ګڼ شمیر ننګونو سره مخ دی. نږدې یو پر درې برخه افغانان د خوړو د ناخوندیتوب له بیړنیو کچو سره مخ دي، په داسې حال کې چې د روان کال وچکالي لا پسې ناوړه شوې او په دې سره داخلي بېځایه کیدنه لا پسې زیاتیږي. نړیوال بانک اټکل کړې چې د جګړې او د کوویډ له شدیدې دریېمې څپې، وچکالۍ، کمزوري ټولنیز جوړښت او نورو فکټورونو له امله د افغانستان د بې وزلۍ کچه کیدای شي له ۵۰ سلنې څخه ۷۰ سلنې ته لوړه شي. دغه بیروونکې لید لورى له ټولو هیوادونو څخه د برابرې شوې بشرې مرستې اهمیت په ډاګه کوي. له وروستیو مرستو سره سره، د ۲۰۲۱ کال لپاره د ۱.۳ بیلیونه امریکایي ډالرو غوښتنه لا تر اوسه یوازې ۳۰ سلنه تمویل شوې.

آغلې رییسې،

د تل په څیر، دا عادي افغان وګړي دي چې تر ټولو درنه بیه پرې کوي. څرنګه چې جګړه سختیږي، د ولسي وګړو لپاره وضعیت لا پسې ناوړه کیږي. د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ ربع کې د ولسي وګړو مرګ ژوبله ۲۹ سلنه لوړه شوې. په ځانګړي ډول او له بده مرغه د ښځو تلفات ۳۷ سلنه او د ماشومانو تلفات ۲۳ سلنه لوړ شوي. د جګړې ښکیلې خواوې باید د ملکي وګړو د ساتنې د نورو تدابیرو د پلي کولو په پار چټک ګامونه پورته کړي. ولسي وګړي د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په څرګند نقض کې په عمدي او منظم ډول په نښه شوي.

د زیات کړاو په پام کې نیولو سره، یوناما د سولې د مذاکراتو په سر کې د قربانیانو او د هغوي د اړتیاوو د ځای کولو پر اهمیت ټینګار کوي. په دې کې باید د لړکیو لپاره مشخصې ساتنې شاملې وي. په کابل کې پر هزاره توکمه ټولنې روان او مکرر بریدونه د دې یو هیښوونکی یادانښت دی چې په عام ډول جګړه څرنګه د مشخصو ګروپونو هدف ګرځولو لپاره کارول شوې.

آغلې رییسې،

څرنګه چې دغه شورا پر دې پوهیږي، د ښځو د حقونو ساتل یوه څرګنده اندېښنه ګڼل کیږي او پر هغو نه باید د مذاکراتو پر میز د معاملې د یو توکي په حیث وکارول شي. د نرینه وو حقونه د مباحثې وړ نه دي. د ښځو حقونه د مباحثې وړ نه دي. پر دې تر دې شورا نور څوک ښه پوهیږي. نړیواله ټولنه او په ځانګړي ډول د سیمې هیوادونه باید یو ځل د سولې په مذاکراتو کې د دغو حقونو د اهمیت یادونه وکړي.

د افغانستان ځوانان – چې اوس د هیواد په تاریخ کې تر ټولو لوستی کهول ګڼل کیږي – له خپلې راتلونکې بې برخې شوي؛ یو داسې راتلونکی چې دوي د پوهنې له لارې د جوړولو په لټه کې وو څو د خپل هیواد له ودې او پراختیا سره مرسته وکړي. د دې پر ځای، هغوي په جګړه کې ښکیل کړای شوي.

اجازه راکړئ یو څو بیلګې وړاندې کړم. د تاوتریخوالی د زیاتیدو پر مهال، درې هغه د پام وړ بریدونه چې د دغې جګړې تراژیک ماهیت او د هغې پای ته رسولو اړتیا په ډاګه کړه. تر ټولو لومړۍ د مې د ۸ نېټې پر هغو نجونو برید و څوک چې په کابل کې په هزاره میشته سیمې کې له ښوونځي څخه کور ته پر لار وې، چې د دغه برید په پایله کې شا و خوا ۱۰۰ ځوانې ښځینه زده کوونکې ووژل شوې. دغې پېښې د نړۍ وجدان/شعور شاک کړ. بمونه درلودونکو ستړو سړیو پر کوچنیو نجونو چې د ښوونځي کتابونه ورسره وو، برید وکړ. د روانې میاشت په پیل کې، په بغلان ولایت کې ۱۱ ماین پاکان ووژل شول او ۱۵ نور ټپي شول.

یوه اونۍ وروسته، په ننګرهار ولایت کې په انفرادي خو په همغږو شویو بریدونو کې د پولیو واکسیناتوران په نښه شوي، چې پنځه یې وژلي او نور ټپیان کړي. دا یوازې د افرادو په وړاندې بریدونه نه ګڼل کیږي، بلکې دا د افغانستان پر راتلونکې برید دی – د هغو نجونو پر وړاندې برید دی چې غواړي زده کړې وکړي، د هغو ماین پاکانو پر وړاندې برید دی ځوک چې په ساده ډول غواړي ځمکې له چاودیدونکو توکو پاکې کړي څو خلک وکولی شي له ویرې پرته کرکیله ترسره کړي، او د هغو واکسیناتورانو پر وړاندې برید دی ځوک چې خپل ژوند له خطر سره مخ کوي چې د پولیو له آفت سره مبارزه وکړي ترڅو افغان ماشومان له کړاو سره مخ نه شي.

نو، آغلې رییسې، څه باید ترسره شي؟

اوس هم وخت شته، لږ خو لا هم وخت شته، ترڅو د ناوړه صحنو د رامنځ ته کیدو مخنیوی وشي. په افغانستان کې بسیا څه جوړ شوي څو د راتلونکې جوړونې او رغونې لپاره زمینه برابره شي – که چیرې یوازې سوله شتون ولري. د بې باورۍ په دغې موده کې د یوناما یو له کلیدي موخو څخه دا ده، څو له ټولو شریکانو سره کار جاري وساتي څو د هغو ادارو تداوم ډاډمن کړي کومې چې د ټولو افغانانو له ښیرازۍ او سلامتیا سره مرسته کوي. راتلونکې هر حکومت چې د مذاکراتو په پایله کې رامنځ ته کیږي له صفر څخه پیل نه شي کولی. زما ریښتینې هیله دا ده چې دا په هماغه اندازه درک کوي لکه څومره چې یې په کابل کې حکومت کوي.

آغلې رییسې، یوناما همدارنګه زیات شمیر هغه غړونه اوریدلي کوم چې له موږ څخه د سولې په پروسه کې د ستر نقش د لوبولو غوښتنه کوي، او د دغه کار د ترسره کولو لپاره چمتو او سمبال یو که چیرې ښکیلې خواوې ریښتینو مذاکراتو ته ژمن وي او یو ځای توافق کوي، یو ځای د ملګرو ملتونو پر دغه نقش باندې توافق کوي.

موږ همدارنګه د سیمې له هیوادونو سره له نږدې او سخت کار کوو. د تیر کال په اوږدو کې له سیمې سره زما په مباحثو کې په ځانګړي ډول په دوشنبه کې د اسیا زړه په سرمشریزه کې، دا څرګنده شوه چې د سیمې هیوادونه په افغانستان کې د اوږدې او دوامداره جګړې په اړه سختې مشترکې اندیښنې لري. په دغو اندیښنو کې کډوال، د کډوالو خوځښت، د نشه یې توکو زیات قاچاق، تروریزم او د اقتصادي اتصال او دوه اړخیز ګټور تجارت د فرصتونو له لاسه ورکول شامل دي. خو دغه ستونزې یوازې په سیمې پورې نه محدودیږي. لکه څنګه چې موږ ټول په دردناک ډول زده کړل، یوه دوامداره جګړه د تروریستي ډلو لپاره داسې مساعد چاپیریال رامنځ ته کوي چې څو خلک استخدام، تمویل او په نړیواله کچه عملیات پلان او ترسره کړي.

موږ باید دا حقیقت ومنو – په افغانستان کې زیاته جګړه د زیات شمیر نورو هیوادونو لپاره په نږدې یا لرې موده کې د زیاتې نا امنۍ په مانا ده.

د سیمې هیوادونه له افغانستان سره په ټیکاو او په سیمه کې په پشپړ ډول مدغم کیدو کې په مرسته کولو کې مهم نقش لري. زه د افغانستان او سیمه ییزو چارو په اړه د عمومي منشي د شخصي استازي په څیر د ژان آرنو د ګمارنې هرکلی کوم او له هغه سره له ډیر نږدې کار کوم. همدارنګه موجوده سیمه ییز فارمیټونه لکه غځول شوې ترویکا، د شانګهاي د همکارۍ سازمان، د اسیا زړه او نور چې ټول باید لا زیات وهڅول شي ترڅو د افغانستان لپاره یو سیاسي او سوله ییز مسیر غښتلی کړي.

آغلې رییسې،

موږ ټول پر دې توافق کولی شو چې د افغانستان راتلونکی حکومت به د خپل ځان او خپلو اتباعو لپاره نړیوال ګډون او ملاتړ ته اړتیا ولري. د روانو پراختیایي او بشري اړتیاوو د ملاتړ لپاره د مرستندویانو مرستې اړینې دي. دا زموږ د هوډ د کمزورتیا لپاره مناسب وخت نه دی، یا تر دې ناوړه دا، چې په غیر عمدي ډول د نا امیدۍ دهغو زیګنالونو په مخابره کولو کې برخه هم ونیسو.

آغلې رییسې،

ما افغانانو ته ډاډ ورکړی چې ملګري ملتونه هغوی یوازې نه پریږدي او له هغوی سره به په دغه مسیر کې پاتې کیږي.

یقینا، زموږ د ټولو له خوا باید هره هڅه ترسره شي څو دغه هیواد د وینې د تویېدنې او کړاو له مسیر څخه راوګرځول شي. په ډاډ سره چې دا هیواد له دغه مسیر څخه په کافي اندازه کړیدلی.

د افغانستان لپاره یوازې یو د منلو وړ مسیر شتون لري – یوازې یو د منلو وړ مسیر – د جګړو له ډګر څخه لیرې او د مذاکراتو میز ته ستنیدل. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د سیمه ییزو هیوادونو په ملاتړ باید هر کار ترسره کړي تر ښکیلې خواوې دغه

مسیر غوره کولو ته وهڅوي. د جګړې له ناخوالو ډک تاریخ نه باید ځان تکرار کړي – خو که چېرې خپل ځان ته او یا زموږ بې تفاوتی ته پرېښودل شي، نو پایله به یې خوامخوا همداسې وي.

د دغه فرصت لپاره مننه. زه له پلازمینو څخه د لوړپوړو وګړو له ګډون زیاته مننه کوم، او یو ځل بیا د امنیت شورا د غړو هیوادونو د لارښوونې په تمه یم څو له دغه په زړه پورې هیواد سره مرسته وشي.

مننه

* * *

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ "د ښه نیت هڅې برابروي" . د "ښه نیت هڅې" هغه ډیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکې، بې طرفي او تمامیت په اړه په عامه او خصوصي محافلو کې اخلي څو د نړیوالو شخړو د راپورته کېدو، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې د پروسې سره مرسته کوي، بشري حقونه نظارت کوي او هڅوي ته وده ورکوي، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول؛ ښه حکومتولي ترویجوي او سیمه ییزه همکاري هڅوي. ماموریت همدارنګه همغږې پرمختیا ته وده ورکوي چې ملاتړ یې د نړیوالې ټولنې له خوا کیږي.*